# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده          د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي




**پاکه ربه رحيم ته يې، رحمان ته يې**
**مهربان تر مور او پلار پر جهان ته يې**

**مه مې باسې نا اميده له درباره**
**ولې دا چې گدا زه يم، سلطان ته يې**

**بهايي جان صاحبزاده**


**پنځنۍ (پنجشنبه) د ليندۍ ۱۷ - ۱۸مه گڼه، پرله پسې (۴۵۷-۴۵۸) مه گڼه، د ۱۴۰۴ل کال د ليندۍ ۲۸مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د جمادي الثاني ۲۷ مه او د ۲۰۲۵م.کال د دسمبر۱۸مه**


څېړنپوه مولا جان تنيوال

# سپما او حذف مترادفې نومونې دي؟

دا يوه جوته خبره ده چې ژبني توکي او عناصر لـــــه ځانگړنو څخه خالي نه دي. دا ځانگړنې هغه وخت ډېرې ښې پېژندل کېدای شي چې د يوه ژبني عنصر موجوديت او شتوالي ته يو څه ژوره پاملرنه وشي او د کارونې اړتيا يې وپېژندل شي.

دا يوه ښکاره خبره ده چې د علــــــومو بېلابېلې ځانگې ځانگړې نومونې لري. پوهان د يوې ځانگې اړوند نومونې د مسلکي وييونو په نوم هم يادوي. دا هم شونې ده چې يوه نيمه نومونه به د علومو په بېلابېلو ځانگو کې په هماغه يوه بڼه کارول کېږي خو معنا او مفهوم به يې سره يو شی نه وي. داسې نومونې به ډېرې لږې او د گوتو په شمېر وي. هغه نومونې چې په يوه ځانگړې علمي ورشو پورې تړلې وي په نورو برخو کې نه کارول کېږي او که څوک يې کاروي مطلوبه پايله نشي ترلاسه کولای. په همدې وجه ښه دا ده چې د استعمال څخه يې ډډه وشي. په اوسني وخت کې ځينې قــــــدرمن څېړونکي او ليکوالان د ځينو کلمو او تورو په ليکنه کـې کمی راولي او که ترې وپوښتل شي چې دا ولې کوئ او څـــــه مو پکې ليدلي دي، نو سمدلاسه درته وايي چې مـــــوږ په ژبه کې سپما کووو. تر هر څه لومړی بايد په دې باندې فکر وکړو چې سمپا څه ته وايي، له علومو کومې برخې يوه خاصه (ځانگړې) نومونه ده او څه مفهوم او معنا لري. ايا په ژبه کې د کارونې موارد لري او کنه. د دې لـــــپاره چې د دې نومونې ماهيت ښه وپېژندل شي ښه به دا وي چې د نړۍ په ځينو ژبو کې يې ولټوو او په دې باندې ځانـــــونه ډاډه کړو چې د استعمال ربښتيني ساحه يې کومه يوه ده.

د پرنگيانو په ژبه (انگرېزي) کې د سمپا لپاره دوې نومونې کارول کېږي، دواړه همانيز (مترادفې) دي. يـــــــوه يې (Deposit) نومونه ده چې د ايښودلو، ذخيره کولو او سمپولو معنا لري. بله يې (Save) نومونه ده چې ساتلو، سپمولو او خوندي کولو ته وايي. همدا شان پــــه جرمني ژبه کـې (Speicherung) او (Sammelung) نومونې د سمپولو او ذخيره کولو لپاره کارول کېږي چـــــې په هېڅ صورت او وجه د حذف او له منځه وړلو معنا ورکوي.

په څېړنه کې د يوې نومونې د محتوا پـــــېژندل څکه د پاملرنې او اهميت وړ دي چې موږ په پوره بـــــاور سره د څېړنې په پايله باندې باوري کوي او د همدې پايلې په درلودلو او څرگندولو سره د يوې نومونې مناسب چاپېريال په نخښه کېږي او موږ دې ته متوجه کوي چې وربشې او غنم سره گډ نه کړو. ما له يو نيم ليکوال څخه پوښتنه کړې ده چې ځينې کسان ولې يو نيم تورى په ليکنو کې غورځوي او په دې اړه څه وايي پــــه ځواب کې مې ترې اورېدلي چې دوی په دې نظر دي چې دې کړنې سره په ژبه کې سپما کېږي، په دې ځای کې سړي تـه دا پوښتنه پيدا کېږي چې سپمول او حذفول د مفهوم لـه مخې يو شان او که سره بېل دي. زما په فکر که لـه لارې څخه نه وم وتلی د شتو او موجودو شيانو يا پيښو څخه د يوې اندازې بېلول او ساتل سمپا ده، حـــــــذف د يوه جوړښت د يوې برخې يا د يوې کلمې له منځـه وړل دي. په ژبنيو ترکيبونو کې دا ډول کړنې د مفهوم او

۲مخ

د دوکتور لودين د ۲٦م تلين په مناسبت

څېړنوال دوکتور محمد داود عربزى

# د څېړنپوه دوکتور دولت محمد لودين لنډه پېژندنه

دوکتور لودين پـــه ۱۳۱۰ل کال د ننگرهار ولايت د کامې ولسوالۍ د کندو سيمې په انگورو باندې کې زېږېدلی دی. د پلار نوم يې زرين خان او د نيکه نوم يې عزيزخان و. په اووه کلنۍ کې د اخوند کلي په لومړني ښوونځي کې شامل او هم يې د کلي په جومات کې ديني مروج علوم ولوستل. بيا د کابل عالي دارالمعلمين کې شامل شو. په ۱۳۳۷ل کـــــې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پښتو څانگې ته بريالـــــی شو. په ۱۳۴۰ل کال کې ترې فارغ او په پښتو ټولنه کې د علمي غړي په توگه مقرر شو هم يې د کابل پوهنتون په ادبياتو پوهنځي پښتو څانگه کې تدريس کاوه خـــــو د وخت په تېرېدو يې د کابل پوهنتون دنده پرېښوده او د پښتوټولنې غړيتوب يې غوره کړ.

> په ۱۳۴۴ل کال کې دپښتو ټولنې د تدريساتو د لوی مدير او هم د همدې علمي مرکز د زيري جريدې د مديريت چارې ور په غاړه وې. په همدې کال کې د پوهنې وزارت په عمومي ازموينه کې د ماسټرۍ او دوکتورا پروگرام ته بريالی شو. روسيې ته ولاړ او شپږ کاله يې د عمومي ژبپوهنې او احصاييوي ميتود د تطبيق په برخه کې د ماسټرې او دوکتورا زده کړې بشپړې کړې. هلته يې يو لړ اثار وليکل او وژباړل. په۱۳۵۰ل کال بېرته خپل هېواد ته راستون او په پښتو ټولنه کې په خپل غړيتوب پاتې شو.

په ۱۳۴۴ل کال کې دپښتو ټولنې د تدريساتو د لوی مدير او هم د همدې علمي مرکز د زيري جريدې د مديريت چارې ور په غاړه وې. په همدې کال کې د پوهنې وزارت په عمومي ازموينه کې د ماسټرۍ او دوکتورا پروگرام ته بريالی شو. روسيې ته ولاړ او شپږ کالـــــه يې د عمومي ژبپوهنې او احصاييوي ميتود د تطبيق په برخه کې د ماسټرې او دوکتورا زده کړې بشپړې کړې. هلته يې يو لړ اثار وليکل او وژباړل. په۱۳۵۰ل کال بېرته خپل هېواد ته راستون او په پښتو ټولنه کې په خپل غړيتوب پاتې شو.

په ۱۳۵۲ل کال کـــــې د صدارت عظمی د (۱۴۹۹) گڼه فرمان لـــــه مخې د پښتو ټولنې د تأليف او ترجمې د لوی مدير مسؤليت ور وسپارل شو. په ۱۳۵۴ل کال کې د پښتو ټولنې په وړانديز د ښه ليکوال مننليک ورکړل شو. وروسته د همدې ټولنې د ټولنيزو علومو لوی مدير وټاکل شو. کله چې پښتو ټولنه د افغانستان د علوم اکاډمۍ په رامنځته کېدو سره د هغه د يوه رياست په توگه يوځای شوه. د پښتو ټولنې د رياست په چوکاټ کې د ژبپوهنې د څانگې مدير شو. له ۱۳۵۷ تر ۱۳٦۱ل کال يې د عظمی صدارت د۱۹۰۱ گڼه فرمان لـــــه مخې د اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړيوال مرکز د رئيس په توگه دنده تر سره کړه. په ۱۳٦۸ل کال کې د هېواد د خپلواکۍ د اووايمې کليزې مډال ورکړل شو. په ۱۳٦۹ل کال کې د علومو اکاډمۍ د بشري علومو د رياست مرستيال شو او په همدې کلونو کې د اکاډمۍ سرپرست رئيس (کفيل) وټاکل شو.

۳مخ

څېړندوی مطيع الله ساحل

# په ټکنالوژۍ کې د پښتو ژبې ځينې پرمختگونه او ستونزې

پخوا به په ټکنالوژي لکه موبايل کمپيوټر او نـورو کې د پښتو ژبې لپاره له عربي څخه کار اخيستل کېده او بيا به په ځانگړې ډول اصلاح کېده خو وروسته پښتو ژبـــــه د کمپيوټر سينې ته ور ننوته او پرمختگ يې وکړ. د لـومړي ځل لپاره يو پښتون ځوان چې نوم يې اوس زما په ذهـن کې نشته، په ۱۹۸۴م کال کې پښتو ژبه له کمپيوټر سره اشنا کړه. په ۱۹۸۹م کال د ډاکټر ودان په نوم يـوه پـوه د کمپيوټر د ځانگړې ژبې سي لـنـگـويـج په مرستـه يـو سافټوير جوړ کړ. تر دې وروسته په تېرو څو کـلـونـو کې پښتو ژبه په بشپړه توگه کمپيوټر ته داخله شوه چې ځينو پښتو پالو انسانانو لکه: نورالهدا اتل، نورالرحمن لـېوال، سيد مرجان ځاځی او د شېرزاد کامه وال په هڅو پښتـو ليکبڼې پښتو کيبورډ او ځينې نور ځـانـگـړي کـمـپـيـوټري پروگرامونه جوړ او پښتو ته واړول شول، په دې ډله کې د لېوال په نوم پروگرامونه زيات وکارېدل او وپېژندل شول. بله دا چې په تېرو کلونو کې د نړۍ تر ټولو غټې کمپيوټري کمپنۍ مايکروسافټ د لوکلايزېشن پروژې سره سم پښتو ژبې ته هم دا حق ورکړ چې په انگليسي ژبـه جـوړ شـوي پروگرامونه په پښتو واړوي چې په دغه پروژه کې ځـيـنـې پروگرامونه لکه ورډ، ايکسل، پاورپواينټ او نور پښتـو تـه اړول شوي وو خو د نا معلومو دلايلو له مخـې دغـه کـار نيمگړی پاتې شو. په دې برخه کې عمر منصـور انصـاري، حبيب الرحمن او څو نورو ځوانانو کار کاوه چې تصحيح کوونکي يې پوهاند دوکتور مجاور احمـد زيـار او استـاد محمد آصف صميم وو. بله دا چې گوگل د نړۍ د سترو او ځواکمنو معلوماتو لټوونکی ماشين دی، که تاسې په انټرنټ کې د هر شي په اړه د معلوماتـو تـر لاسـه کـول غواړئ او يا هم عکسونه پيدا کول غواړئ د گوگل په دغه نړۍ کربښه کې يې ور وليکئ، دغه ماشين يې پـه يـو ټـک سره درته پيدا کوي، د ټکنالوژۍ دغه برخه د نړۍ په ډېرو ژبو کار کوي چې له نيکه مرغه پښتو ژبـــــه هم د دغـه کاروان ملگرې شوې ده. يوه خبره چې په دې برخـه کـې يې بايد ووايم دا ده چې په گوگل کــــــې د پښتو ژبې د داخلېدو يو ښېگڼه د پښتو ليکدود يووالي ته ډېره مهمـه ده څکه په گوگل چـې کـلـه يـو څـه ژباړې او يا هم معلومات ورکوې بايد يو ډول ليکدود وکـــــاروې او پښتـو ياگانې بايد سمې او پر ځای و کارول شي.

> اسرار احمد کريمزی يو بـل ځـوان دی چـې پـه دې برخه کې يې کار کړی دی او يو څه پښتو کـمـپـيـوټـري پروگرامونه يې جوړ کړي چې يو يې پښتـو اسـتـوځـی (مسنجر) دی چې د انټرنټ پـه مـرستـه پـه پښتـو چيټنگ کې له پښتو ژبې څخه کار اخلي. بله دا پښتو برېښنايي قاموسونه دي چې د بېلابېلو کسانو له لوري جوړ شوي او په انټرنټ کې د قاموسونو پـه نـوم يـو وېبپاڼه ده چې ټولې پښتو انگليسي ډکشنري پکې پـر ليکه شوي دي او تر يو لـک او پـنـځـوس زرو پـورې لغتونه او کلمې پکې ژباړل کېږي چې دا په خپلـه پـه تکنالوژيکي ډگر کې لوی پرمختگ دی.

پخوا به چې يو چا څه ليکل هغه به يـې لـه ځان سره ساتل، له نورو سره يې نه شو شريکولی څکه هغه وخت د خپرېدو وسايل نه وو، اخبار په نشت حساب و، کـه و هم د هر چا لاسرسی ورته نه و. نن د همدغې ټکنـالـوژي په مرسته هر څوک کولی شي خپله ليکنـه او شعـر هـر وخت له هر چا سره شريک کړي حتـــــــــى تر دې چې يو شاعر کولی شي خپل شعر ديکلمه او د رسنيـو لـه لارې يې د پښتو ژبې او ادب مينه والو ته ورسوي چې دا هر څه په ټکنالوژۍ کې د پښتو ژبې پرمختگونه روښانه کوي.

د پښتو ژبې د کتابونـــــــو د خپراوي لپاره بـرېښـنـايـي کتابتونونه جوړ شوي دي چې هــر څوک هر وخت کولی شي د خپلې خوښې کتاب تر لاسه او يـــــا يې هم له نورو سره شريک کړي چې ښه بېلگه يې د ”کتابتون“

۳مخ

ل: پروفيسور سيال کاکړ

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون

# د مولانا بلخي د مثنوي پښتو ژباړې (۳) برخه

**(۴) رومي گلدسته**

د مولانا بلخي په باره کې ارواښاد عبـدالـرحـمـن جـامـي رحمه الله ښه ويلي دي:

> من نه می گويم که آن عاليجناب
> هست پيغمبر ولی دارد کتاب
> مثنوی معنوی مولوی
> هست قرآن در زبان پهلوی

هو!! ښکاره ده چې د تېرو پښتنو عالمانو په منـځ کـې د مولېٰنا جلال الدين محمد بلخي مثنوي د ديني درسونو په لړۍ کې گډه(شامله) وه؛ همدارنگه زموږ عالمانو د منبر په سر به هم د مثنوي لـه ژونديو مطـالـبو ډېره گټه اخيسته، په همدې ترتيب مثنوي عرفاني مطالب لـړل او پرې پوهېدل ډېر ستونزمن و؛ نـو پـه همـدې اساس د افغاني خاورې پوهانو او عالمانو د مـثـنـوي يـا غـورچاڼ شوي څو دفتره د پښتو په ښکلي نظم او يا نثر وژباړل.

د پښتو په معاصرو ادبياتو کې پروفيسور نورشـاهـجـهـان انور يو د مثنوي له مېنانو څخه دی چې د شپږو منتخـبـو دفترونو پښتو ژباړه يې بشپړه کړې ده، نوموړی استـاد د مولوي شېخ حسن زوی، په ۱۹۳۳م د نومبر په ۲۰ مه د کرک د گنډيري ختک په سيمه کې دې نړۍ ته راغلی، دی د بارک ختک له قبيلې نه دی، ده د ليسانس تر کـچـې پېښور په پوهنتون کې د پښتو او پارسي په برخه کـې زده کړې کړې دي، ښاغلي نور شاهجهان انور ډېـر کـلـونـه د پښتونخوا په بېلابېلو پوهنتونونو کې د پښتو درس ورکـړی دی، دی له پارسي ژبې او ادبياتو سره ډېـره مـيـنـه لـري، نوموړی په ۱۹۹۳م کې له سرکاري دندو کور ناستی شو، نوموړی استاد دمگړۍ ناروغه دی او د شعـر لـيـکـلـو او شعر ويلو وس نـــــه لري، خدای جل جلاله دې روغـتـيـا ورکړي، ده څو پښتو کتابونه ليکلي دي، د گل او گيلې اثر د همده دی، زه فکر کوم چې نور کتابونه يې تر دې دمه نه دي چاپ شوي؛ البته د مثنوي شپږ غوره شوي دفتره يې په خپلو اوږدو وړاندوينو پـــــــه پښتو نثر ”د رومي گلدستې“ په نامه خپره کړې ده.

دا چې نور شاهجهان انور د مولانا بلخي له مـثـنـوي سره مينه درلوده او هوډ يې درلود چې دغه نه هېرېدونکی اثر د پښتو په ښکلي نظم واوډي؛ مگـــــــر له دې وروسته ارواښاد پروفيسور پرېشان خټک د ده پام د نـثـري ژبـاړې لور ته راواړوه چې په همدې اساس ښاغلي انور له بشپړ احساس او ژور پام سره د مثنوي شپږ غوره شوي دفتره په خوږه پښتو د نثر په چوکاټ کې وژباړل؛ البته نوموړي د مثنوي شعرونه د پښتو نظم په ښکلي سکښت کې اوډلي چې له دې سره ده خپلې ژباړې تـــــه د خوشحال خان خټک، رحمان بابا، کامگارخان خټک، معزالله خان مومند، علامه اقبال لاهوري، ابـــوالمراد امير حمزه خان شينواري، سيد رسول رسا او طاهر کلاچوي د شعرونو په راوړلو ښکلا وربښلې ده.

رومي گلدسته ډېرې زياتې ادبي گڼې لري، نثر يـې روان، خوږ او گړدود (لهجې) ته نږدې دی، دا چـې ژبـاړن لـه پښتو او پارسي ژبو سره بشپړه بلدتيا درلوده؛ نـو هـمـدا لامل دی چې نوموړي مثنوي په ښکلې طريقې پـه پښتـو نثر ژباړلې ده، بـــل ښاغلی نور شاهجهان انور د پښتـو استاد و؛ نـــو په همدې اساس نوموړي مثنوي پـه ډېـرې اسانۍ په مورنۍ ژبه په نثر ژباړلې ده، ده له ړومبي دفتره تر شپږم ډېر زيار کښـــل دی چې رومي گلدسته په ساده سبک وکښې چې له همدې سره ژبه يې ادبي او مـعـيـاري ده، ژباړه يې دومره په زړه پورې ده چې لـوسـتـونـکـي پـه اسانۍ ځانته راکـاږي، حقيقت دا دی چې نوموړي په دې ادبي ډگر کې ډېر زيات برې تر لاسه کړی دی.

۲مخ

## د مولانا بلخي د مثنوي پښتو...

رومي گلدسته په ۱۹۹٦م د اکتوبر په میاشت، په شاهین برقي پرېس پېښور کې خپره شوې او ۲۱۸ پاڼې لري. یاد کتاب خطاطي شوی؛ مگر لیکگر یې نامعلوم دی. ښاغلی نور شاهجهان انور رومي گلدسته خپل درانه پلار ته په دې ډول ډالۍ کوي: ((د خپل پلار په نــــــامه! چې زما روحاني او جسماني پالنه یې کړې ده)).

دا چې رومي گلدسته بېخي نه پیدا کېده او په اسانۍ نه تر لاسه کېږي؛ نو دغه ستونزه د بلـــــــوچستان کوټې پوهنتون پښتو څانگې مشر ښاغلي جاوېد اقبال خټک راته هواره کړه، زه له دغه غوره شاعر او ځوان لیکوال څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په دې اړه یې له ما سره مرسته وکړه.

باید وویل شي چې د مولانا بلخي د مثنوي په ژباړه کې یې نننۍ پښتو املا نه ده کارولې؛ بلکې د نوموړي په ژباړه کې سیمه ییز اغېز لیدل کېږي، په ټوله کـــــې د استاد نور شاهجهان انور ژباړه ډېره ښکلې او ارزښتمنه ده او پـــــه پښتو- پارسي ادبیاتو کې رومي گلدسته پــــه یوه اوچت مقام کې ځای موندلی دی.

پروفیسور نور شاهجهان انور د "خپلــې خبرې" سرلیک لاندې دا رنگ لیکي: ((ما له ډېر وخته دا هیله درلوده چې د مولېنا بلخي حکمت او عرفان د درس په شکل په پښتو وکښم چې عام لوستونکي یې ولولي او بیا ترې څه زده کړي، پخپله د مولېنا مثنوي د همالیه غرونو په شان ده، مثنوي هغه څوک کولای شي چې ویې لولي؛ نو نه یواځې دا چې په پارسي ژبه برلاسی وي؛ بلکې ښه عالم هم باید وي، د اردو ژباړې او څېړنې دومره اوږدې دي چې په دې بوختي نړۍ کې ممکن څوک یې لوستو ته ځان جوړ نه کړي او رښتیا خو دا ده چې ټولو نرینه او ښځینه زده کړیالانو ته د مثنوي لوستل ډېر اړین دي)).

د الله پاک شکر دی چې استاد نور شاهجهان انور بالاخره په دې برلاسی شو چې د مولانا بلخي مثنوي پخپلې مورنۍ ژبې وژباړي، رومي گلدسته د ده د زیار کښلو یوه ارزښتمنه مېوه ده، اوس وخت رارسېدلی چې ټول نرینه او ښځینه پښتانه لوستي د رومي گلدستې له لارې مولانا ښه وپېژني او د ده عرفاني ورمونه د ژوند په چارو کې پخپلې ټولنې پلې کړي.

په اخره کې له رومي گلدستې نه څو پښتو نثري بېلگې د گرانو لوستونکو خدمت ته "د پوهې له زېرمې" وړاندې کېږي:

### د رومیانو او چینایانو مقابله

وايي د چین خلکو یو ځل دعوه وکړه چــــــې موږ لوی نقاشان یو، رومیانو ووې چې په نقاشۍ کې موږ د هر چانه زیات یو، پادشاه دواړو ته د مقابلې کولو دعوت ورکړو او مهلت یې ورکړو چې دوی دې خپله نقاشي وښايي، یو کور چینایانو ته حواله کړای شو او بل رومیانو ته، دواړه کورونه یو بل ته مخامخ وو.

چینیانو د پادشاه نه سل قسمه رنگونه وغوښتل او نقش و نگار یې شروع کړو، رومیانو خپلو کې فیصله وکړه چې د صیقل نه علاوه نقش و نگار نه دی پکار، دروازه یې بنده کړه او په صیقل یې شروع وکړه، ټول دېوالونه یې تک سپین وبرېښول.

چینیان چې د نقاشۍ نه فارغ شول؛ نو د خوشحالۍ نه یې ډولونه غړول، پادشاه د ملاحظه کولو دپاره د چینیانو نقش و نگار کتلو ته راغی، د دوی نقش و نگار دومره ښایسته و چې پادشاه یې حیران کړو؛ بیا د رومیانو طرف ته لاړو، هغوی پرده اوچته کړه، د چینیانو د تصویرونو عکسونه په هغو دېوالونو کې څه ډېر ښایسته منظر پېش کولو چې د اصل نقش و نگار نه زیات ښایسته وو.

لکه څنگه چې د روم خلکو پخپل عمارت کې د نقش و نگار په ځای صیقل کول غوره وگڼل او د چینیانو ټول نقشونه په هغو کې منعکس شول چې د اصل نقش و نگار نه هم زیات ښایسته وو؛ دغسې صوفیان هم خپل زړونه د حرص، بخل او کینې نه صیقل کوي؛ بیا علوم په هغو کې منعکس کېږي؛ لکه خوشحال خټک وايي:

> آیینه د زړه صیقل کړه
> چې یې ووینې ای جانه
> که دې دا نندارہ وشي
> جدا نه یې له سبحانه

رحمان بابا څه ښه ویلي دي:

> بادشاهانو که قصرونه کړل آباد
> ما د عشق عمارتونه کړل آباد

### ړوند سوالگری

یو ړوند سوالگری چې به هر کله خیر غوښتو؛ نو دا اواز به یې کاوه چې:

((زه په دوه رنگه ړوند یم، په ما رحم وکړئ)).

خلکو ترې تپوس وکړو چې یو خو په سترگو ړوند یې، بل په څه ړوند یې؟

سوالگري ووې: زمـــا اواز ډېر خراب دی. د خراب اواز په اورېدو د خلکو همدردي له ما سره کمه شي؛ ځکه چې زما مکروه اواز د دوی د تکلیف باعث وگرځي.

سوالگري چې په کوم خلوص سره د خپل عیب اعلان وکړ؛ د ده خلوص د ده اواز اثرناک وگرځولو او د خلکو به پرې زیات ترس راتلو.

مولانا روم فرمايي: ((د دې نه علاوه یو قسم ړوند بل هم شته؛ هغه کس هم ړوند وگڼه چې د چا د زړه اواز خراب وي، داسې سړی په درې رنگه ړوند وي)).

### لمنلیکونه

**۱. دا د مولانا شعر دی چې په دې وروستیو کې د حیات الله وړ په نامه یوه خوږ ژبي شاعر یې یوه برخه په نظم ژباړلې ده، له دې سره یې دوه نور ژباړونکي هم زیات شوي چې یو حمیدالله محمدشاه او بل ن، زهیر بلخي.**

**۲. د ارواښاد کاکړ د دې لیک په ترتیب تر دې دمه درې نور ژباړونکي هم پیدا شوي، یو حمیدالله محمد شاه منثوره ژباړه، بل حیات الله وړ منظومه ژباړه او دریم ن، زهیر بلخي چې مثنوي معنوي یې په نثر ژباړلې ده.**

### مأخذونه

۱. شفق، رضا زاده. د ایران د ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، آهنگ خپرنځی: ایران، ۱۳٦۹ل.
۲. بېنوا، عبدالروف. اوسني لیکوال، دویم ټوک، د اطلاعاتو او کولتور وزارت: کابل، ۱۳۴۱ل.
۳. کندهاری، محمد صالح خان، پښتو مثنوي، د پښتو د پیاوړتیا او پراختیا ریاست: کابل، ۱۳۵۰ل.
۴. اکبر، عبدالاکبر خان. (ژباړن)، د مولانا روم پښتو مثنوي، حمیدیه پرېس: پېښور، ۱۹۷۷م.
۵. خلیل، همېش. پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، پبلک آرټ پرېس: پېښور، ۱۹۵۸م.
٦. بنوی، قاسم. ادبي گلدسته، پښتو ادبي مرکز: نورنگ سرای بنو، ۱۹۸۴ز.
۷. اکرام، اکرام الله. د لواغر مشکنې، النور ادبي ټولنه گنډیري کرک خټک: اسلام اباد، ۲۰۰۹م.
۸. انور، نور شاه جهان. (ژباړن) رومي گلدسته، شاهین برقي پرېس: پېښور، اکتوبر ۱۹٦۹م.
۹. هېواد مل، زلمی. فرهنگ زبان و ادبیاتو پښتو، د ښوونې او روزنې وزارت: د تألیف او ترجمې ریاست: کابل، ۱۳۵٦ل.
۱۰. رفیقي، حیات الله خان. مولوي صالح محمد هوتک، پخپله لیکوال، چاپکال نه لري.

## سپما او حذف مترادفې...

معنا له مخې ستونزې پیدا کوي. که چېرې موږ ووایو چې کابل روغتون، په دې ترکیب کې د (دال) د توري حذفول سپما ده او که کمی؟ کابل روغتون او د کابل روغتون په نومونو کې د (دال) توري غورځول د رښتیني مفهوم په پېژندنه کې تغیر راوستی شي او که نه؟ په دې بېلگو کې د (دال) توری څه دنده لري او څه له څه څخه بېلوي.

> که ووایو ښوونکي کـور- د ښوونکي کور په ترکیب کې د رښتوني مفهوم د پېژندلو په موخه د (دال) توری لرې شي او که پرځای پاتې شي. که په دویم مثال (د ښوونکي کور) کې د (دال) توری حذف او له مخې وغورځول شي په مطلب باندې پوهېدل په تیاره کې نه پاتې کېږي؟ ښوونکي کور یعنې څه؟ په دې ترکیب کې هېڅ رڼا نه تر سترگو کېږي باید د دې جوړښت سره یوه بله برخه راشي تر څو یو غرض، موخه او هدف جوت کړای شي لکه: ښوونکي کور خرڅ کړ، ښوونکي کور په کرایه ورکړ او داسې نور. که سړی په دې مورد کې لیکنه پسې وغزوي اړینه نه ده ځکه چې دا یوه گونگه موضوع او داسې مسله نه ده چې یو څوک دې په یوه جوړښت کې لاس ووهي او د سپما نوم دې ورباندې کېږدي. پښتانه یو متل کوي او وايي "توري شپې خوړلي چا نه دي موندلي". حذف کړي یا حذف شوي عناصر چانه دي سپما کړي. موږ باید په بېلابېلو ژبنیو برخو کې د امکان تر بریده داسې څېړنې وکړو چې راتلونکي نسلونه زده کړې ترې وکړي، انساني ژوند پرمخ روان دی او پوهان په دې بوخت دي چې د ټولنیز ژوند او کتلوري ارزښتونو تیاره گوټونه روښانه کړي.

ژبنی جوړښت د کلماتو له گډون څخه منځته راځي او د اوازونو پربنسټ د څېړې او شکل رنگ خپلوي. یوه ژبه د ځانگړنو له مخې د بلې ژبې سره نږدېوالی او لرېوالی پیدا کوي د ساري په ډول په دې ژبه کې د اضافت او ملکیت نخښه په تقریري ژبه کې ځان خرگندوي (اوس خو په تحریري ژبه کې هم تر سترگو کېږي) په پښتو ژبه کې داسې چار د (دال) د توري په وسیله ترسره کېږي او د (Genitiv) په حالت کې په اسانۍ سره لیدل کېدای شي.

پای

## وگړپوهنیزه ژبپوهنه...

۳.ارکیالوژي/لرغونپوهنه (Archaeology): د تېر انسان د ژوند پاتې شوني (اوزار، کورونه، قبرونه، لیکنې، لوښي) له را اېستلو او د هـــــغوی د تحلیل له لارې د انسان د پخواني ژوند ښه معلوموي. یعنې د انسان د تاریخ لیکل د خاورې له لارې تر سره کوي.

۴.ژبنــــــۍ وگړپوهنه (Linguistic Anthropology) یـــــــا وگړپوهنیزه ژبپوهنه ( Anthropological Linguistics): د ژبې او کلتور اړیکه څېړي او گوري چې ژبـــــه څنگه د خلکو د فکر، ټولنیز جوړښت، هویت، دودونو او کلتوري اړیکو په جوړولو کې رول لري.

تر دې ځایه پر دې پوه شوو چې انتروپولوجیکل ژبپوهنه څه ده او څــــــه دندې لري اوس به راشو دې ته چې انتروپولوجیکي ژبپوهان ژبه څنگه څېړي او له کومو میتودونو څخه د ژبې په څېړنه کې کار اخلي.

ژبه ډېری وخت پــــــه داسې ډول کار کوي چې خلک یې ناخبره وي، خــــو دا پټ کار د خلکو پر فکر، باورونو او کړنو ډېر ژور تاثیر لري. که څوک غواړي چې په ټولنه کې اغېزمن گډون وکړي، باید ډېر ځان ته متوجه نه وي چې ژبه څنگه کاروي. خو په حقیقت کې، همدا نالیدل شوې ژبنۍ برخې تر ټولو ډېرې اغېزې لري ځکه له همدې لارې ښکاري چـــــې خلک نړۍ څنگه درک کوي او څنگه ورته ښکاري. نو ځکه، انتروپولوجیکل ژبپوهان لـــــه بېلابېلو میتودونو څخه کار اخلي، چې هغه ارزښتونه، اصول او تکرارونه تحلیل کړي چې د خبرو، لیکلو، اشارو، حرکاتو او بدني ژبې په ترڅ کې پټ وي. دوی دا هم څېړي چې گرامر، د ژبې کارول او د ژبې په اړه د خلکو باورونه او نظرونه څنگه یو له بله سره تعامل کوي. په دې اړه مېرمن ډاس داسې لیکي:

"ژبني انتروپولوجیستان عموماً له اتنوگرافیکي میتودونو څخه کـــــار اخلي، یعنې دوی د خبرو طرزونه، ټولنیز تعاملونه او د ژبې عملي کارونه د گډون او مشاهدې له لارې څېړي. دا میتودونه پر مستند کولو تکیه کوي، یا خو لیکلي یادښتونه اخلي او یا هم د غږ یا ویډیو له لارې د ژبې کارونې ثبتوي. ځینې ژبني انتروپولوجیستان له خلکو سره مرکې کوي، تر څو په دې وپوهېږي چې د ژبې پر بنسټ باورونه او عملونه څنگه سیاسي او ټولنیز جوړښتونه اغېزمنوي. نور بیا تجربي څېړنې طرحه کوي، یا له محاسبوي (کمپیوټري) میتودونو څخه گټه اخلي، څـــــــو دا وڅېړي چې گرامري جوړښتونه یا لیکنې سیستمونه د انساني فکر او ادراک سره څه ډول اړیکه لري". (ډاس، ۲۰۲۲: ۳مخ)

د وگړپوهنیزې ژبپوهنې سرچینې د آرشیفونو اسناد، په ټولنه کې د وگړو له منځه اوږدمهاله څېړنې او د مجازي نړۍ یا ډیجیټلي فضاوو څېړل دي، چې ټول به یو یو په لاندې ډول وڅېړو:

لکه څنگه چې فرهنگي انتروپولوجي د نننیو (معاصرو) پدیدو مطالعه کوي، ژبنۍ انتروپولوجي هم پر همدغو عصري شرایطو تمرکز لري. سره له دې، ځینې ژبني انتروپولوجیستان د ارشیفونو له اسنادو کار اخلي، څو دا وڅېړي چې معاصرو ټولنیزو ژبنیو شکلونو له پخوا راهیسې څنگه بدلون موندلی دی.

ځینې نور بیا اوږدمهاله څېړنې کوي، تر څو په دې پوه شي چې ژبني مهارتونه څنگه د وخت په تېرېدو سره روزل کېږي. "دلتـــــه د ټولنیز کولو ((Socialization پروسه څېړل کېږي: یعنې هغه پروسه چې نوي غړي (ماشومان، نوي راغلي خلک) د خبرو ژبـــــه، اشارهییزه ژبه، یـــــا "کورني اشارهییز سیستمونه"((Home Signs کاروي چې فرهنگي او ارتباطي وړتیا تر لاسه کړي. دا څېړنې ښيي چې ژبه او هویتونه څنگه د ژوند د دورې په اوږدو کې بیا تولیدېږي." (ډاس، ۲۰۲۲: ۴مخ)

سربېره پر دې ځینې وگړپوهنیز ژبپوهان مجازي نړۍ یا ډیجیټلي فضا څېړي تر څو پر دې وپوهېږي چې پر نوې رسنۍ، معلوماتي ټکنالوژۍ او د اړیکو پر وسایلو کې خلک څنگه ژبه کـــــاروي او څه اغېزې لري. دا څېړنې ممکن دا هم تحلیل کړي چې خلک څنگه ټولنیزې رسنۍ او ځیرک موبایلونه کاروي یا مجازي غونډې دایروي.

> وگړپوهنیزه ژبپوهنه داسې نه ده چې وچ په وچه یوازې گرامري برخې وڅېړي او نه داسې گڼي چې ژبه یوازې د معلوماتو د انتقال وسیله ده، بلکې په دې ځانگه کې ژبه ډېره ژوره معنا لري، هغه معنا چې د کلتوري او ټولنیزې اړیکې په توگه کار کوي. دوی د ژبې هغو غیر مستقیمو، فرهنگي او موقعیتي فعالیتونو ته پام کوي چې معنا رامنځته کوي. په دې اساس ویلی شو چې د دې ځانگې موضوعات بېلابېل دي چې دلته ورته نغوتې وشي.

وگړپوهنیزه ژبپوهنه داسې نه ده چې وچ په وچه دې یوازې گرامري برخې وڅېړي او نه داسې گڼي چې ژبه یوازې د معلوماتو د انتقال وسیله ده، بلکې په دې ځانگه کې ژبه ډېره ژوره معنا لري، هغه معنا چې د کلتوري او ټولنیزې اړیکې په توگه کار کوي. دوی د ژبې هغو غیر مستقیمو، فرهنگي او موقعیتي فعالیتونو ته پام کوي چې معنا رامنځته کوي. نو په دې اساس ویلی شو چې د دې ځانگې موضوعات بېلابېل دي چې دلته به ورته نغوتې وشي.

ژبني انتروپولوجیستان د ژبې بېلابېلو اړخونو ته گوري؛ خو یو مهم ټکی دا دی چې دوی ژبه یوازې د معلوماتو د انتقال وسیله نه گڼي بلکې ژبه ډېره ژوره معنا لري، هغه معنا چې د کلتوري او ټولنیزې اړیکې په توگه کار کوي. دوی د ژبې هغو غیر مستقیمو، فرهنگي او موقعیتي فعالیتونو ته پام کوي چې معنا رامنځته کوي. په اندیانا انټرنټي پاڼه کـــــې د انتروپولوجي په بحث کې د ژبنۍ انتروپولوجي موضوعات داسې بیان شوي دي:

"یوه موضوع یې دا ده چې ژبه څنگه د بېلابېلو ادبي او بیاني ډولــــــــونو ((Genres په وسیله جوړېږي، لکه فولکلور، طنز، غیبت، وینا، کیسه ویل او کیسه لیکنه او شعري اثار. د ژبني هنر، کیسې او د مذهبي یـــــا دودیزو مراسمو تحلیل ښيي چې ژبــــــه هم فورمولي ده او هم خلاقه او ژوره معنا لري.

همدا رنگه ژبــــــه د هویت د بیانولو وسیله ده. خلک د جنسیت، توکم، مذهب، طبقې، عمر او جنسي تمایل په هویت کې د ژبې ښه کاروي. دوی څېړي چې ژبه څنگه هویتونه جوړوي او څنگه یې بیا بدلون او ننگونه رامنځته کوي، ځکه چې هویتونه ثابت نه، بلکې خلاقانه او په تحول کې وي.

د خو ژبو په چاپېریالونو کې ژبه څنگه بدله یا گډه کارول کېږي، د استعماري اړیکو، کډوالي او نړیوالو تعاملاتو له امله هغو خلکو ته پامــــــــــلرنه کېږي چې "کوډ بدلون"((code-switching یـــــــا "ژبني گډول" (Translanguaging)کاروي. دغه څېړنې ښيي چې زیاتره ټولنې اوس له ژبنۍ گډوډۍ سره ژوند کوي او هم یې پخوا په دې گډوډیو کې ژوند کـــــاوه. نورې څېړنې د دولتونو د ژبنیو پالیسیو پر موضوعاتو تمرکـــز کوي، لکه د ملي یووالي لپاره یوه معیاري ژبه، یـــا د څو ژبنیزو سیاستونو کارول. اکـــــثره وخت دا پالیسي نابرابرۍ لا پیاوړې کوي، خو خلک لــــه ژبې څخه په کار اخیستنې سره دا سیستمونه هم ننگوي." (اندیانا انټرنټي پاڼه)

دا چې ولې ژبنۍ انتروپولوجي اړینه ده؟ د دې په ځواب کې ویلای شو: ژبنۍ انتروپولوجي یوازینۍ اکاډمیکه ځانگه ده او نوموړې ځانگه دا څېړي چې انسانان ژبه څنگه په ټولنیز او کلـــــــتوري لحاظ مانا لرونکو ښو کې کاروي. دا ځانگه دې ته پام کوي چې څه ویل کېږي، څنگه، چېرته، کله او لـــــــه چا سره ټولنیز تعاملات پېښېږي. دا څېړنیزه طریقه موږ ته د اړیکو د پېښو یو پراخ، ژور او پر بستر ولاړ درک راکوي. دا لیدلوری، لکه څنگه چې د وگړپوهنې په نورو برخو کې هم شته، پر دې رڼا اچوي چې انسانان څنگه ژوند کوي، مبارزه کوي او خپل ځان خرگندوي.

ژبنۍ انتروپولوجي دا رابرسېره کوي چې مختلفې خبرې، لیکنې او اشاري ژبې ((Sign Language څنگه فردي پېژند (هویت) او ټولنې جوړوي او همدارازه دا چې دا ژبني عملونه څنگـــــــه سیاسي، اقتصادي، حقوقي او نورو ټولنیزو جوړښتونو ته ښه ورکوي. ژبنۍ کړنې (عملونه) کېدای شي د نسلونو ترمنځ بدلـــــــون ته لاره هواره کړي، یا برعکس، یـــــو نسبي ثابت کلتوري جوړښت وساتي. کله چې ژبنۍ انتروپولوجي د ژبې شاته پرتې هغه مفکورې او باورونه وڅېړي چـــــې د واکمنۍ (حاکمیت) نظامونه ورباندې ولاړ وي، نو دا د دې امکان برابروي چې موږ د نابرابرۍ کلک بنسټونه وگورو او نیوکه پرې وکړو.

> دا چې ولې ژبنۍ وگړپوهنه اړینه ده؟ د دې په ځواب کې ویلای شو: ژبنۍ وگړپوهنه هغه یوازینۍ اکاډمیکه ځانگه ده چې دا څېړي چې انسانان ژبه څنگه په ټولنیز او کلتوري لحاظ مانا لرونکو ښو کې کاروي. دا ځانگه دې تـــه پام کوي چې څه ویل کېږي، څنگه، چېرته، کله او له چا سره ټولنیز تعاملات پېښېږي. دا څېړنیزه طریقه مـــــوږ ته د اړیکو د پېښو یو پراخ، ژور او پـــــر بستر ولاړ درک راکوي. دا لیدلوری، لکه څنگه چې د وگړپوهنې په نورو برخو کې هم شته، پـــــر دې رڼا اچوي چې انسانان څنگه ژوند کوي، مبارزه کوي او خپل ځان خرگندوي.

په داسې نړۍ کې چې دوامدار بدلونونه پکې روان وي لکه ټولنیز غورځنگونه، کډوالي، نوې ټکنالوژۍ، چاپېریالي بحرانونه او نورو گډوډیو ته ورته پېښې، ژبه هم خپله ونډه بدلوي. ټولنیز، اقتصادي او سیاسي بدلونونه ډېر کله هغه عام منل شوي نظریات گډوډوي چې د انساني اړیکو په اړه یې لرو. دا بدلونونه نوې خبرې، لیکنې یا اشارې رامنځته کوي چې ښايي ځینې خلک له خبرو اترو وباسي، یا هم نورو ته د شمولیت نوې لارې پرانیزي. ژبنۍ انتروپولوجي موږ ته دا ارزښتناک لید راکوي چې وگړو خلک څنگه ژبه کاروي تر څو خپل ټولنیز ژوند جوړ کړي، گډون پکې وکړي او خپل ژوند بدلون ته برابر کړي.

### مأخذونه

۱. اورمړ، خلیل الله. ژبپوهنه ، کابل مجله: (۲-۱ گڼه)، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو مرکز: کابل، ۱۳۹۱ل.
۲. فولي، ویلیام ا. وگړپوهنیزه ژبپوهنه، پي ډي اف فایل: سیډني پوهنتون ته لیکل شوې مقاله، بې تا.
۳. ډاس، سونیان. ژبنــــۍ وگړپوهنه څه ده؟ وگړپوهنه انلاین مجله کې خپره شوې مقاله، ۲۰۲۲م.
۴. انټرنټي سایټ، وگــــــــــــړپوهنه ، د راخیستو نېټه ۱۴۰۴/۵/۲ل. anthropology.indiana.edu.
۵. ویکي پیډیا، وگړپوهنیزه ژبپوهنه، د راخیستو نېټه ۱۴۰۴/۵/۲ل. https://ps.wikipedia.org/wiki/
٦. زیــــار، مجاور احمد. پښتو سیندگی (نویزونه) دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۰ل.

## د څېړنپوه دوکتور لودین...

په ۱۳۷۴ل کال یې تقاعد رد او بېرته د اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د ادبیاتو او متنپوهنې څانگې مشر شو. د ژوند په وروستیو کې د یاد مرکز د ژبپوهنې څانگې مشري ور وسپارل شوه. په ۱۳۷۵ل کال کې د اکاډمۍ له خوا درېیمه درجه ستاینلیک ورکړل شو، په ۱۳۷۶ل کې یې د ۲۳۱۹ گڼه حکم له مخې د فوق دولتي رتبې نه مافوق ته لوړه وکړه. په ۱۳۷۷ل کال کې ورته د خېگان ناروغي پیدا شوه او په ۱۳۷۸ل کال د لیندۍ میاشتې په (۱۳مه) نېټــه یې د (٦٨) کلونو په عمر د حق داعي ته لبیک ووایه او جنازه یې د یادې میاشتې په (۱۴مه) نېټه د علومو اکاډمـــــــۍ د غړو او د هېواد د یو شمېر لیکـــــوالو په گډون په خپله پلرنۍ سیمه کې خاورو ته وسپارل شوه.
مرحوم لودین د خپل ادبي ژوند پر مهال د دولت محمد، سپرکښ، دولت محمد سپرکښ او ډاکټر دولت محمد لودین په نومونو لیکنې کړې دي.

**ژبې:** د خپلې مورنۍ ژبې تـر څنگ په دري، انگلیسي او روسي ژبو پوهېده او ډېر اثار یې ترې ژباړلي او هم یې په انگلیسي او روسي یو شمېر اثار لیکلي دي.

ارواښاد لودین د خپل ژونـــد په اوږدو کې یو شمېر علمي او تحقیقي اثار لیکلي چې لږ شمېر یې چاپ او زیات ناچاپ دي. د لودین صیب یو شمېر اثـــــار د کورنیو جنگونو پر مهال نادرکه شوي دي چې په دې برخه کې له ډېرو هلو ځلو وروسته وتوانېدم چـــې څه یې پیدا کړم. ځینې یې چې د علومو اکاډمـــۍ په ارشیف او کتابتون کې نه شته، لـــه نېکه مرغه له کورنۍ سره یې خوندي و او یو شمېر یې لا اوس هم ورک دي.

ارواښاد لودین د خپل ژوند په اوږدو کې یو شمېر علمي او تحقیقي اثار لیکلي چې لږ شمېر یې چاپ او زیات ناچاپ دي. د لودین صیب یو شمېر اثار د کورنیو جنگونو پر مهال نادرکه شوي دي چې په دې برخه کې له ډېرو هلو ځلو وروسته وتوانېدم چې څه یې پیدا کړم. ځینې یې چې د علومو اکاډمۍ په ارشیف او کتابتون کې نه شته، له نېکه مرغه له کورنۍ سره یې خوندي و او یو شمېر یې لا اوس هم ورک دي.

### لیکلي اثار

**۱. د ننۍ پښتو ژبې احصاییوي قاموس:** دا اثر په ۱۳۵۳ل کال د پښتو ټولنې له خوا په ۲۱۷مخونو کې چاپ شوی دی او۳۱۵۱ هغه لغات چې په پښتو متنونو کې ډېر استعمالېږي په کې راوړل شوي دي.
**۲. لغت پوهنه:** په ۱۳۵۵ل پښتو ټولنې چاپ کړی، ۲۵۳ مخونه لري، په ننگرهار کې ختیځ خپرندویه ټولنې له خوا زما په سریزه، سمون او زیار بیا ځلي خپور کړی دی.
**۳. د اوسنۍ پښتو ژبې احصاییوي قاموس:** په ۱۹٦۹م - ۱۳۴۸ل کال په لیننگراد کې کمپوز شوی او د هغه پوهنتون په کتابتون کې خوندي دی، په دې اثر کې ټول ۲۱۲٦۸ لغات راوړل شوي دي. (ناچاپ)
**۴. د پښتو ژبې د هنري نثر احصاییوي قاموس:** په لویه کچه کاغذ په ۱۴۰ مخونو کې ۱۹٦۹م کال په لیننگراد کې کمپوز شوی، ۷۰۰۰ مختلف لغات په کې ځای شوي، د دې اثر یوه کاپي د افغانستان په علومو اکاډمۍ کې شته. (ناچاپ)
**۵. د پښتو ژبې د علمي خپرونو احصاییوي قاموس:** په ۱۹٦۹م کال په لیننگراد کې کمپوز شوی ۱۳۱مخونه لري، ٦۵۳٦ لغات په کې راوړل شوي دي. (ناچاپ)
**٦. د پښتو ژبې عمومي الفبایي احصاییوي قاموس:** دا اثر په کال ۱۹٦۹ کې پښتو په لاتیني تورو د الفبا په ترتیب لیکل شوی او په شوروي کې کمپوز شوی ۲۱۲۰۰ لغات په کې څېړل شوي، د مخونو شمېر یې ۴٦۲ دی. (ناچاپ)
**۷. د پښتو ژبې عمومي احصاییوي قاموس:** ټول ۴۲٦ مخونه لري په ۱۹٦۹م کې په روسیه کې کمپوز شوی، ټول په کې یوویشت زره لغات څېړل شوي. (ناچاپ)
**۸. د پښتو ژبې د اخباري خپرونو احصاییوي قاموس:** د مخونو شمېر یې ۱۲٦ او په ۱۹٦۹م کال په روسیه کې کمپوز شوی، ټول ٦۷۵۵ لغات لري. (ناچاپ)
**۹. د پښتو ژبې د اشعارو احصاییوي قاموس:** ټول ۱۴٦ مخه لري په ۱۹٦۹م په لیننگراد کې کمپوز شوی، ۷۲۸۰ مختلف لغات په کې راوړل شوي دي. (ناچاپ)
**۱۰. د پښتو ژبې د محاورې (وینا) احصاییوي قاموس:** ټول ۱۲۹مخونه لري، ۷۲۸۰ لغات په کې راوړل شوي او په ۱۹٦۹م کال په لیننگراد کې کمپوز شوی دی. (ناچاپ)
**۱۱. د پټې خزانې د اشعارو احصاییوي قاموس:** ټول ۲٦مخونه لري دا قاموس په ۱۳٦۲ل کال د زیري جریدې په گڼو کې (د پټې خزانې د اشعارو لغوي پانگه) تر سرلیک لاندې په سلسله وار ډول خپور شوی، ماسره یې یوه کاپي موجوده ده.
**۱۲. د پټې خزانې د اتو شاعرانو د شعرونو احصاییوي قاموس:** دا قاموس هم په ۱۳۵۹ل کال د کابل مجلې په گڼو کې خپور شوی او ما له یادې مجلې راټول کړی، د موضوع په تړاو ځینې نورې مقالې ورسره د ضمیمې په ډول یو ځای شوي او په ۱۳۹۵ل کال د ختیځ ادبي بهیر له خوا د لودین د سیمنار په ویاړ چاپ شوی دی.
**۱۳. د ښکارندوی د قصیدې احصاییوي قاموس:** یوه وړه رساله ده چې په ۱۹۸۱م - ۱۳٦۰ل کې د اکاډمۍ د پښتو مرکز د پښتو مجلې لومړۍ گڼه کې په روسي ژبه خپره شو په دې کې لومړی د ښکارندوی پېژندنه، ورپسې د هغه د قصیدې احصاییوي قاموس او هم د راغلو لغتونو معناوې راوړل شوي، په دې کې ټول ۳۳۴ لغتونه راغلي او ۲٦ مخونه لري، چې یوه کاپي یې ماسره شته.
**۱۴. د شیخ اسعد سوري احصاییوي قاموس:** په روسي ژبه یوه وړه رساله ده چې ټول ۴۰ مخونه لري او په کال ۱۹۸۱م - ۱۳٦۰ل کې د علومو اکاډمۍ په (پښتو مجلې څلورمه گڼه) کې خپره شوې، په دې کې د اسعد سوري د قصیدې ۳۰۸ لغات چې ځینې یې تکراري هم دي، په روسي معنا شوي دي.
**۱۵. په احصاییوي میتود د اوسنۍ پښتو ژبې د څېړنې لارې چارې:** په ۱۹۸۱م کال کې په روسي ژبه د پښتو ژبې د څېړنو پر لارو چارو لیکل شوی دا اثر له لږلیک پرته ۱۸۴مخونه لري او د علومو اکاډمۍ د نړیوالو ژبو د څېړنیزې مجلې (پښتو) په۱۹۸۱/۸۰م کلونو گڼو کې خپور شوی، یوه کاپي یې ما سره شته.
**۱٦. پښتو - پښتو تشریحي قاموس:** په څلورو ټوکونو کې د گڼو لیکوالو گډ اثر دی چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا یې له ۱۳۵۸ څخه تر ۱۳٦۵ کلونو پورې ټول ټوکونه چاپ شوي، په دې اثر کې د لودین ونډه (له ب تر ح او له گ تر ی تورو) پورې ده.
**۱۷. د احصاییوي میتود له مخې د ننۍ پښتو ژبې د څېړلو ازمایښتونه:** دا په اصل کې په روسي ژبه د څېړنپوه لودین د دوکتورا دېزرټېشن دی چې تر دې دمه ناچاپ دی خو لنډیز یې په پورته نوم په ۱۹۷۱م کال کې په لیننگراد کې خپور شوی دی.
**۱۸. قاموس پوهنه:** دا اثر هم په ۱۳٦۷ل کال د (پښتو څېړنې دوهم ټوک) په نوم د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د لسمې کلیزې د سیمنار په مناسبت د مقالو په ټولگه کې له ۴٦- ۵۴۰ مخونو پورې خپور شوی و، خو اوس ۱۳۹۵ل کال کې د لودین صیب د سیمنار په ویاړ ما له یادې ټولگې استخراج او د موضوع په تړاو مې د څو مقالو په ضمیمې سره چاپ کړ.
**۱۹. د مؤمن خان او شېرینو کیسه:** دا د مومن خان او شیرینې د داستـــــان نثري بڼه ده چې د سنگر جمال د منظوم اثر لـــــه مخې لیکل شوې او ما سره یې قلمي نسخه خوندي ده چې په نږدې وخت کې به چاپ شي.
**۲۰. د عمومي ژبپوهنې مسایل:** په ۱۳٦۴ل کال کې د کابل مجلې په گڼو کې څو برخې خپرې شوې وې او پاتې یې په قلمي بڼه موجودې وې، له یو شمېر نورو مقالو سره یو ځای په ۱۳۹۵ل کال کې د څېړنوال رفیع الله نیازي په سریزه، تدوین، سمون او اهتمام د ډاکټر لودین د سیمنار په مناسبت چاپ شوی دی.
**۲۱. ژبه او ټولنه:** د دې اثر یوه نسخه په ۱۱۳مخونو کې د گستتنر پـــه ډول موجوده وه، په ۱۳٦۲ل کال لیکل شوی چې د کابل مجلې او زېري جرېدې په گڼو کې خپور شوی هم دی په ۱۳۹۵ل کال کې د څېړنوال رفیع الله نیازي په سمون او زیار د لودین د سیمنار په ویاړ چاپ شوی دی، پـــه دې اثر کې د ژبې حقیقت، د ژبې د پیدا کېدو سرچینه، ژبه او وینا، ژبه او تفکر، د ژبې شعور او ټولنې گډې اغېزې، ژبه او کلتور، په ژبه کې د لغاتو نوي کېدل او زړښت او نور راغلي دي.
**۲۲. ژبپوهنه:** دا اثر د ۱۳۷۵ل کال په جوزا کې بشپړ شوی، یـــو نقل یې د علومو اکاډمۍ ارشیف ته ورکړل شوی و چې اوس ورک دی او یـــو څه برخه یې د لودین صاحب په یادښتونو کې شته چې د چاپ وړ نه دی.
**۲۳. لغوي څېړنې:** دا اثر چې ما مخکې د لودین د اثارو په لړ کې د زړو لغاتو په نوم پېژندلی و، د زیري جریدې د ۱۳٦۳ل کال په گڼو کې په بېلابېلو عنوانونو خپور شوی مـــا د لغوي څېړنې په نوم یو ټوک راټول کړی او د لمنلیکونو سره به په نږدې وخت کې چاپ شي، په دې اثر کې د پټې خزانې د لغاتو شننه او څېړنه شوې ده.
**۲۴. د ډاکټر دولت محمد لودین خورې ورې مقالې:** دا هم د مرحوم لودین مقالې دي چې د یو اثر په بڼه ما ترتیب کړي او د چاپ لار څارې.
**۲۵. څنگه یې ولیکو:** دا د ارواښاد لودین مقالې دي چې ما راټولې کړي او د یو کتاب په بڼه مې ترتیب کړي. د دې مقالو ډېره برخه په زیري جریده او کم شمېر یې په نورو خپرونو کې خپرې شوې تر اوسه ناچاپ دی.
**۲٦. ژبنیزې مقالې:** دا هـــم د دوکتور لودین د ژبپوهنیزو مقالو ټولگه ده، چې خورې ورې خپرې شوې او ما د موضوع په تړاو راټولې کړي، لا تر اوسه ناچاپ دي.
**۲۷. د ډاکټر لودین څو مقالې:** دا په بېلابېلو موضوعاتو لیکل شوې څو مقالې ما له مختلفو خپرونو د یوې ټولگې په ډول ترتیب کړي چې په نږدې وخت کې به چاپ شي.

### ژباړلي اثار

**۲۸. ټام سایر:** د مارک ټواین انگلیسي ناول دی، چې ارواښاد لودین په ۱۳۴۰ل کال پښتو ته ژباړلی او په ۱۳۴۲ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی، دا ناول په دویم ځل هم په پېښور کې خپور شوی دی.
**۲۹. شېرشاهي تاریخ :** دا یو تاریخي اثر دی چې ډاکټر لودین پر ۱۳۵۴ل کال له پارسي ژبې را ژباړلی او په همدې کال د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی: دا مهم اثر په دویم ځل دانش خپرندویه ټولنې زما په سریزه او زیار خپور کړی دی.
**۳۰. په کلتوري انقلاب کې د عام و خاص خصوصیتونه:** دا اثر له روسي ژبې ژباړل شوی، لیکوال یې (س، ل، پخوپول) دی او په ۱۳٦۷ل کال د افغانستان داطلاعاتو او کولتور وزارت له خوا خپور شوی.
**۳۱. غوره نثرونه:** د استاد الفت د نثرونو ټولگه ده چې ارواښاد لودین په ۱۹۸۷م کال روسي ژبې ته ژباړلې، د افغانستان علومو اکاډمۍ، د پښتو څېړنو مرکز له خوا د دوه زره ټوکو په شمېر په ۱۵۱مخونو کې خپره شوې ده.
**۳۲. پټه خزانه:** په ۱۱۴۲-۱۱۴۱ هـ کال د محمد بن داود هوتک دا معتبره وثیقه ارواښاد لودین روسي ژبې ته ژباړلې او د افغانستان علومو اکاډمۍ خپره کړې.
**۳۳. د پښتو ژبې لنډ گرامر:** د روسي ژبپوه ډاکټر شیافییف اثر دی او ډاکټر لودین په ډېرې ساده پښتو ژباړلی، په ۱۳۵۲ل کال په عرفان مجله کې سلسله وار خپور شوی او ما عربزي راټول کړی چې په ۱۳۹۵ل کال د لودین سیمنار په ویاړ چاپ شوی دی.
**۳۴. ادبي ژبې او ژبنیز سبکونه:** دا اثر له روسي ژباړه ده، لیکوال یې (ر.ا. بوداگوف) دی، په ۱۳۹۵ل د لودین د سیمنار په ویاړ د څېړنوال رفیع الله نیازي په سریزه، سمون او زیار ختیځ ادبي بهیر خپور کړی دی.
**۳۵. د ادبي تیورۍ بنسټونه لومړی ټوک:** له روسي ژبې را ژباړل شوی اثر دی، په دې کې په عمومي ډول دادب تیورۍ په اړه د پوهانو هغه نظریات او بحثونه موجود دي چې تر اوسه ناویلي او ناڅرگند و.
**۳٦. د ادبي تیورۍ بنسټونه دویم ټوک:** دا ټوک هم د پورته لومړي ټوک دویمه برخه ده چې په کې د ادبي تیورۍ بنسټونه په تشریحي بڼه څېړل شوي.
**۳۷. د ادبي تیورۍ بنسټونه درېیم ټوک:** دا ټوک هم د پورته دوه ټوکونو وروستۍ برخه ده چې د یاد اثر ټولې برخې او بحثونه پرې بشپړېږي د دې شهکار اثر درېواړه ټوکونه د تېرو جنگونو او گډوډیو له امله ورک شوي و او اوس په بشپړ ډول زما لاس ته راغلي او په نږدې وخت کې به چاپ شي.
**۳۸. د پښتو ژبې مورفولوژي:** دا له روسي ژبې ژباړلی یو ناچاپ اثر دی چې تر اوسه زما په لاس نه دی راغلی او په اړه یې ډېر معلومات هم نه لرم، ورک شوی یې ځکه بولم چې د ده په ناچاپو اثارو کې نه شته خو د ده په یادښتونو کې یې ځینې برخې شته.
**۳۹. د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا:** په روسي ژبه د تذکرة الاولیا ژباړه ده، په ۱۹۸۵م کې بشپړه شوې او د اکاډمۍ د پښتو څېړنو مرکز (پښتو) مجله کې په شلو مخونو کې خپره شوې، یو نقل یې زما په کتابتون کې شته.
**۴۰. نړۍ او ژوند:** دا اثر په روسیه کې د یو ډله لیکوالو له خوا لیکل شوی او په ۱۳٦۷ل کال کې پښتو ژبې ته په لنډیز سره را ژباړل شوی، ۲۳۹مخونه لري، موضوع یې په لویه کې د چاپېریال، نړۍ او واقعیت باندې د پوهېدو او هم د انسان د شخصي ژوند په لوړو ژورو، پر هغې قضاوت د سمو پایلو او ذهني تسکین ترلاسه کولو په اړه معلومات وړاندې کوي، تر اوسه ناچاپ دی، زما په سریزه، سمون او زیار به چاپ شي.
**۴۱. د ډاکټر لودین ژباړې:** دا هم د ډاکټر لودین په قلم ژباړل شوې مقالې دي، چې د وخت په جریدو او مجلو کې خپرې شوي، ما د یوې ټولگې په ډول لیست کړي او د چاپ په اړه به یې هڅه وکړم.
لـــه پورته یادوشو اثارو پرته ارواښاد لودین ډېرې نورې مقالې هم لري چې د هېواد په بېلابېلو ورځپاڼو او جریدو کې خپرې شوې چې لا راټولې شوې نه دي.


### مأخذونه

۱. ناصر، نصرالله. د ډاکټر دولت محمد لودین ژوند او اثار (کابل مجله: د وري او غوایي میاشتو گڼه)، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۱ل.
۲. لـــــودین، دولت محمد. لغت پوهنه، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۵ل.
۳. زیری. (د زیري مصاحبه د یوه پخواني مدیر دوکتور لودین سره)، پښتو ټولنه: کابل، پرله پسې ۱۱٦۳ گڼه، د تلې ۱۳۵۰/۷ل/ د۱۹۷۱م د دسمبر ۲۹ گڼه.
۴. زیارن، شهزاده. پښتو څېړنې دویم ټوک، د پښتو څېړنو د نړیوال سیمنار د مقالو ټولگه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳٦۷ل.
۵. لودین، دولت محمد. د ننۍ پښتو ژبې احصاییوي قاموس، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۳ل.
٦. اریـــــانا دایرة المعارف، درېیم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل،۷۳٦م، ۱۳۸۹ل.
۷. د څېړنپوه دوکتور دولت محمد لودین د دولتي دندو رسمي (کارټوتیک) کارت سوانح.
۸. د ارواښاد دوکتور لـــــودین په خپل قلم لیکل شوي شخصـــي یادښتونه.


## په ټکنالوژۍ کې د پښتو...

په نوم برېښنایي کتابتون دی چې په سلگونه کتابونـه په کـــــــــې خوندي دي. تر دې ور هاخوا راډیوگانې او تلویزیونونه دي چې د پښتو ژبې د زده کړې تر څنگ د پښتو ژبې د پـــــــرمختگ لپاره ډېرې ادبي خپرونې او پروگرامونه لري.
بله دا چې د پښتو ژبې د مقالو، اثارو او بېلابېلو مسایـلو د خپراوي په موخه په لسگونه وېبپاڼې جوړې شوي دي د بېلگې په توگه مشهورې یې تاند، نن ټکی اسیـا، روهـي، پوهاوی، پرمختگ ... وېبپاڼې چې دا او دې ته ورتـه ډېـر نور پرمختگونه دي چې دلته یې د یوې مقالې تر حـده د ټولو یادونه او تفصیل ناشونی دی.

چټ جي پي ټي یو نوی اپلیکېشن دی چې د پښتو ژبې په بـرخـه کې خپلې ښېگڼې او نیمگړتیاوې لري. دا یو داسې اپلیکېشن دی چې د هرې ژبې معلومات د مصنوعي هـوش لـه نـورو بـرخـو (گوگل، فېسبوک، انټرنټي پاڼو) را ټولوي او تـاتـه یـې درکـوي، معلومات یې کره او منظم نه وي بلکې مخصوص څو پراگرافه وي او له دې ډېر معلومات نه شي ورکولی د ژباړې پـه بـرخـه کې لږ څه ښه دی ځکه متن نسبتاً په ښه بڼه ژباړلی شي خو په ټوله کې یې زیان دا دی چې د کتاب لوست او له کتاب استفاده کم رنگه کوي. د مطالعې دود لـه مـنځـه وړي، لـیـکـوال او څېړونکي تنبل عادت کوي او د هرې موضوع د پلټنې په مـوخـه لومړی چټ جي پي ټي ته مراجعه کوي. همدا راز د پښتو ژبـې پر وړاندې ځینې نورې ستونزې هم شته چې په له منځـه وړلـو سره یې دغه ژبه لا زیاته ټکنالوژۍ ته داخلېدای شي.

چټ جي پي ټي یو نوی اپلیکېشن دی چې د پښتو ژبې په برخه کې خپلې ښېگڼې او نیمگړتیاوې لري. دا یـو داسـې اپلیکېشن دی چې د هرې ژبې مـعـلـومـات د مـصـنـوعـي هوش له نورو برخو (گوگل، فېسبوک، انټرنټي پاڼو) څخه را ټولوي او تاته یې درکوي، معلومات یې کره او مـنـظـم نه وي بلکې مخصوص څو پراگرافه وي او لـه دې ډېـر معلومات نه شي ورکولی د ژباړې په برخه کې لږ څه ښه ده ځکه متن نسبتاً په ښه بڼه ژباړلی شي، خو په ټوله کې یې زیان دا دی چې د کتاب لوست او له کـتـاب اسـتـفـاده کم رنگه کوي. او د مطالعې دود له منځه وړي، لـیـکـوال او څېړونکي تنبل عادت کوي او د هرې موضوع د پلـټـنـې په موخه لومړی چټ جي پي ټي ته مراجعه کوي. هـمـدا راز د پښتو ژبې پر وړاندې ځینې نورې ستونزې هـم شـتـه چې په له منځه وړلو سره یې دغه ژبه لا زیاته ټکـنـالـوژۍ ته داخلېدای شي.
که څه هم دغه ستونزې د هر مسلک خلکو لپاره تـوپـیـر کو. هر څوک کېدای شي خپل مسلک سره په ارتباط کـې چې کومو ستونزو سره مخامخ وي هغه وښیـي. زما پـه نظر تر ټولو لومړی دا دی چې موږ ټکنالوژۍ ته د خـپـلـو ژبو پر داخلېدو باندې پانگونه وکړو. مـوږ عـمـلا پـه دې برخه کې برخه‌وال شو. تر اوسه پـه زیـاتـره ساحـو کـې یوازې شرکتونو د خـــــــپلو تجارتي موخو لپاره دا ژبه د ټکنالوژۍ له روان کاروان سره په ځان پسې کړې ده. مثلا د انلاین ژباړې په برخه کې که وگورو په «گوگل ژباړه» کې پښتو د پخوا په څېر نه ده، ډېر تغییر په کــــې راغـلـی، وضعیت ښه شوی او حتی په دې وروستیو دوه کلونو کې له اردو او فارسي نه هم ښه وه. په دې برخه کې خلکو د خپل شخصي احساس له مخې کار کړی، ډېرې جملې یې ژباړلي او ورکړې دي. دا بهیر یې تر دې ځایـه را رسـولـی دی، خو که وگورو د یوې منظمې ادارې په توگه دا کار نـه دی شوی، که هغسې شوی وای دې به لا گـټـه کـړې وه. اوس هم په گوگل ژباړه کـــې د عـلـمـي مسایـلـو ژباړه ستونزې لري ځکه په دې برخه کې چې چا کار کړی هـغـه زیاتره عام خلک دي، خپلې ورځنۍ مـحـاورې ژبـاړې او گوگل ژباړې ته یې ورسپارې. نو په دې بـــــرخه کې بـایـد اړوندې ادارې او اړوند ارگانونه هڅه وکړي چې پښتو ژبه د ټکنالوژۍ غېږې ته ور واچوي او په دې برخه کـې شـتـه ستونزې له منځه یوسي او د ژبې د پرمختگ لپاره اړیـنـې لارې چارې وسنجوي او گټه ترې واخلي. علومو اکـاډمـي د خپل رسالت او مسؤلیت پر اساس د نورو علـــومو سر بېره د پښتو ژبې او ادب د پرمختگ او غنامندۍ لپـاره پـه هره برخه کې ډېر زیات کار کړی دی او لا هم هغو بـرخـو ته چې ډېره اړتیا ده کار کوي. د پښتو ژبـــــې او ادبـیـاتـو انستیټیوټ د ټکنالوژي په برخه کــــې د هـغـو مسـلـکـي کسانو لپاره چې کولی شي پښتو ژبه د ټکنالوژۍ غېږې ته ور واچوي د لپاره د موجوده ټکنالوژي د ټولو ډولونو لپاره پښتو نومونه ټاکلي دي چې شمېر یې سلگونو لغتونـو تـه رسېږي او دا یې له اړوندو ادارو سره شریک کړي دي.
د ټکنالوژۍ ځینې برخې شته چې لا هم پښـتـو ژبـه تـرې محرومه ده. ډېر لـــرې به نه ځو، همدغه زمـــا او ستا په لاس کې چې کوم موبایل دی، دا هـم پښـتـو نـلـري. یـو پښتون چې موبایل کاروي هغه مجبوره دی چــــې د دې موبایل له انگلیسي، عربي، اردو او پارسي ژبو نه استفاده وکړي، په دې لاره کې موږ ډېر په ابتدایي وضعیت کې یو. اړتیا ده افغانستان چې پښتو یې ملي او رسمي ژبـه ده د دې د حمایت په پار، له دغو شرکتـــــونو سره د رسـمـي راکړې ورکړې او یا په واردوونـکـو دا لازمي کـړي، کـوم موبایلونه چې د افغانستان لپاره جوړېږي هغه باید پښتو د موبایل د ژبې په توگه؛ نه د کیبورډ په تـوگـه ولـري. دا شونې ده، موږ وینو چـې په دې ساده موبایلونو کې پښتو شته. همداسې مایکرو سافټ، انـــــډراییډ، او ایي ایـس او داسې نور سیستمونه دي چې لا تر اوسه ترې پښتو ژبه محرومه ده، کــــــه څه هم دا اوږد بهیر دی، خـو اراده او کار غواړي.
پای

# زېری

علمي، څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

**د ۱۴۰۴ ل.کال، د لیندۍ میاشتې ۱۷- ۱۸مه ګڼه | پرله پسې ۴۵۷- ۴۵۸ مه ګڼه**

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډيزاين:** دوکتور خاورين

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

**د افغانستان د علومو اکاډمي**
**د ژبو او ادبیاتو مرکز**
**څېړنيز ارګان**

**د اړيکې شمېرې:** (+93) (0) (780831960)
(+93) (0) (202201279)

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ




# په پښتو کې د بیا ویي رغونې (نیولوجیزم) اړتیا

**نور کمال ارشاد**

نیولوجېزم داسې یوه پروسه ده چې په پایله کې یې ژبپوهان د اړتیا په صورت کې په شعوري توګه نوي کلمې رامنځته کوي. دا مېتود په ډېرې پرمختللیو ژبو کې کارېږي، تر څو له یوې خوا د مهال له غوښتنو سره سم مخکې یون وشي، ټولنې د وییونو له کمښت سره مخ نه شي او له بلې خوا ژبې د وییونو له یرغل څخه وساتل شي؛ که پام وکړو هره ورځ په نړۍ کې داسې نوي څېزونه جوړېږي چې له آره نوم نه لري. یو خو دلته اړتیا پیدا کېږي چې ټولنې ته د دغه نوي څېز پېژندګلوي وشي. دا پېژندګلوي زیاتره وخت د څېزونو څانګړنو ته په کتو تر سره کېږي. د ساري په توګه؛ کله چې کمپیوټر جوړ شو، ژبپوهانو د هغه وخت د کمپیوټر ځانګړنو ته په کتو د کمپیوټر ویی ورته غوره کړ چې د حساب کوونکي معنا ښندي او د هغه وخت کمپیوټرحساب کوونکی ماشین و.

له بله اړخه که وګورو هغه هېوادونه چې په ورځنۍ توګه په کې تر ټولو ډېر اختراعات کېږي، ژبې یې هم ورځ په ورځ نوي وییونه اخلي چې دې سره نوموړې ژبې خورا د بډاینې خوا ته روانې دي، خو تر څنګ یې همدغه اختراعات له ټاکل شویو نومونو سره یو ځای له لوړو ژبو څخه ټیټو ژبو ته راځي چې په پایله کې یې ټولنې په هماغه نوم اخلی. دا کار څکه خطرناک دی که تصور وکړئ په ټوله نړۍ کې چې په ورځنۍ توګه څومره اختراعات کېږي، دا ټول یو مهال وروسته ټیټو ژبو ته راځي او که یوه ژبه په پنځو یا لسو کلونو کې تر زرو ډېر پردي وییونه واخلي او دا چاره جریان پیدا کړي، نو د ژبې د آرې پانګې د له منځه تلو وېره موجوده ده.

پښتو ژبه که څه هم یوه محافظتي (conservative) ژبه ده خو بیا هم یو له هغو ژبو ده چې په اوس مهال کې له پردیو وییونو بېخي ډېره اغېزمنه ده، په سلګونو څه چې دا اوس په زرګونو پردي وییونه پښتو ژبې ته راغلي دي. موږ فقط دومره کړي چې د جمعې پر مهال مو خپل سوچه وروستاړي پسې نښلولي دي او مختلطې کړې مو دي. فکر کوو دې سره مو ویی خپل کړ، د ساري په توګه، کمپیوټر، جمع یې کمپیوټرونه، موبایل، موبایلونه او ورته نور خو داسې نه ده.

دا چې ولې پښتو ژبې ته د پردیو وییونو سېلاب تر نورو ډېر او چټک را روان دی؟ د دې ډېر لاملونه دي. اول خو دا چې موږ د دغه سېلاب د تم کولو لپاره یو قوي دریځ نه لرو او کوم ژبپوهان چې دې چارې ته متوجه دي او غواړي چې یو څه وکړي، هغوی ته هېڅ ډول شرایط برابر نه دي، بیا هم دوی تر خپله وسه یو څه کړي چې موږ یې باید منندوی وو. دویم دا چې په پښتو ژبه کې د ژباړې د لړۍ پیل او مخکې راتللو هم له دې سېلاب سره په تېزۍ کې مرسته کړې ده. زموږ ډېرې ژباړونکي چې ژباړې کوي، فقط په هماغه اړوندو ژبو پوهېږي نور نه د ژباړې اصول دومره پېژني او نه د ژبپوهنې له نظره د خپلې ژبې ارزښتونو ته پام کوي، څکه ما وویل دوی له آره نه پوهېږي. په دې برخه کې د کتابونو، مقالو، فلمونو او نورو ژباړې راتلای شي.

بل لامل یې رسنۍ دي. زموږ رسنیو کله هم دا خطر نه دی حس کړی چې د دوی کړنې ژبې ته څومره مضرې دي بیا هم باید ووایم چې دوی د نورو کنډول خوري، نو څه به خپلې ژبې ته پام وکړي. ممکن داسې یوه نیمه رسنۍ ولرو چې دې چارې ته یې پام وي او باید منننه ترې وشي.

یو وخت مې یوه تلویزیوني ډرامه لیدله چې په پښتو ژباړل شوې وه، زما تر لسو څلو ډېر پام شو چې (مجادله) ویی په کې د دښمنۍ او جګړې پر ځای وکارول شو، دا کار یا په لوی لاس کېږي یا په ناخبرۍ کې تر سره کېږي. مجادله عربي ویی دی چې مانا یې دوښمني ده، نو موږ چې پښتو ویی لرو، ولې پردی ویی وکاروو؟

له دې خبرې مې مقصد دا دی چې دلته په وچ زور د پښتو ژبې د وییونو مرګ روان دی، موږ که اوس پام ونه کړو، څه وخت وروسته به د دې چارې اغېزې را څرګندې شي، خو له موږ به یې ورخ وړې وي.

په اوس مهال کې په پښتو ژبه کې د دې ستر طوفان د ودرولو لپاره یوه قوي تګلاره په کار ده تر څو ژبپوهان مو د ژبې د خوندیتوب لپاره د نیولوجېزم یا بیا ویي رغونې مېتود لپاره کار وکړي، دوی ته اسانتیاوې را منځته کول، شرایط ور ته برابرول اړینې چارې دي چې باید وشي.

آن زه خو په دې نظر یم چې موږ باید دې برخې ته ځانګړې رسنۍ، د اخبار، مجلې، راډیو او تلویزیون په ګډون رامنځته کړو، تر څنګ یې په ټولنیزو رسنیو کې پراخ کار وشي تر څو خپله ژبه مو خپله بډایه کړې وي، دا کار دومره سخت نه دی، څکه که مو پام کړی وي پخوا مو د باغِ وحش د کلمې لپاره پښتو ویی نه درلود خو اوس ژوبڼ پښتو ویی یې د بدیل په توګه په پراخ ډول کارېږي. د چورلکې ویی او ورته ډېر یې نور ساري دي. مقصد دا دی چې که دې برخې ته رښتیا کار وشي، نو د پورته وییونو په ډول نور وییونه هم رامنځته کولی شو او ټولنه یې هم ژر اخلي.

زه په پای کې یو ځل بیا وړاندیز کوم چې د دې چارې ارزښت خورا لوړ دی او هر څومره ژر چې کېدای شي، باید یوه منظمه او ګټوره تګلاره را منځته شي. **پای**

# وګړپوهنیزه ژبپوهنه (Anthropological Linguistics)

**څېړندوی محمد اتل انګار**

انتروپولوجیکل ژبپوهنه چې پوهاند زیار یې وګړپوهنیزه ژبپوهنه بولي، (زیار، ۱۳۹۰: ۴۲۹مخ) هغه علمي څانګه ده چې ژبه د انسان د فرهنګ، ټولنیزو اړیکو او چلند په رڼا کې څېړي. دا د ژبپوهنې او انتروپولوجۍ تر منځ ګډه څانګه ده او هدف یې دا دی چې د ژبې او کلتور تر منځ ژوره اړیکه وڅېړي. انتروپولوجیکل ژبپوهنه د تطبیقي ژبپوهنې یوه اساسي څانګه ده. دا ژبپوهنه له تشریحي ژبپوهنې سره جوت توپیر لري څکه تشریحي ژبپوهنه تر ډېره پورې تخنیکي او داخلي جوړښت ته ګوري لکه: ګرامر، فونولوژي، مورفولوژي... خو وګړپوهنیزه ژبپوهنه بیا د ژبې ټولنیزه او کلتوري بڼه څېړي. وګړپوهنیزه ژبپوهنه دا څېړي چې ژبه څنګه د کلتور برخه ده او خلک څنګه د خپلې ژبې له لارې خپل دودونه، ارزښتونه، او باورونه بیانوي. دا ژبپوهنه د بېلابېلو قومونو ژبې، لهجې او د بیان طرزونه څېړي او دا هم ګوري چې ولې خلک مختلف ژبني ډولونه لري. همدا راز دا ژبپوهنه دا څېړي چې څنګه ټولنیز عوامل د ژبې پر بدلون اغېز لري (لکه کډوالي، ښاري کېدل، استعمار او د ټکنالوژۍ پرمختګ).

"په انسان پېژندنې یا بشر پېژندنې پورې اړونده ژبپوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د یوې ټولنې د ژبې، فرهنګ لکه دودونو، اعتقادونو او د کورنې جوړښت ترمنځ اړیکې څېړي." (اورمړ، ۱۳۹۱: ۱۰۳ مخ)

"انتروپولوجیکي ژبپوهنه د ژبې او کلتور ترمنځ د اړیکو مطالعه او د بیولوژیکي وګړپوهنې، پوهېدنې او ژبې ترمنځ د اړیکو مطالعه ده. انتروپولوجیکي ژبپوهنه د انتروپولوجي هغه څانګه ده چې د ژبو له مخې انسانان مطالعه کوي." (ویکي پیډیا انترنټي سایټ)

تر دې ور هاخوا انګرېز لیکوال لیکي: "ژبنۍ انتروپولوجي د ژبپوهنې او د انتروپولوجۍ یوه فرعي څانګه ده چې د ژبې ځای د هغې د پراخ ټولنیز او کلتوري چاپېریال په رڼا کې څېړي. دا څېړنه د ژبې رول په فرهنګي کړنو او ټولنیزو جوړښتونو کې د رامنځته کېدو او دوام له پلوه ارزوي. سره له دې چې دورانتي (۲۰۰۱) دا ردوي چې انتروپولوجیکي ژبپوهنه دې یوه واقعي یا خپلواکه څانګه وي او پر ځای یې ژبنۍ انتروپولوجي اصطلاح غوره ګڼي، زه دا دواړه اصطلاحات یو له بله بدل ګڼم. دورانتي په منطق سره استدلال کوي چې د اوسنۍ ژبپوهنې تمرکز پر ژبه د شکلي جوړښتونو پر واضحو تحلیلونو دی، په داسې حال کې چې د انتروپولوجي ژبنۍ تعامل د پراخ کلتوري سیاق او نښلیزو (semiotic) سیستمونو له لارې تحلیلوي. له دې امله نوموړی دا څانګه د انتروپولوجۍ تر چتر لاندې شامله ګڼي، نه د ژبپوهنې." (فولي، بې تا: ۱ مخ)

دا چې موږ وګړپوهنیزه ژبپوهنه ووایو او که ژبنۍ وګړ پوهنه، مطلب مو ترې هماغه وګړپوهنیزه ژبپوهنه ده؛ البته د دې لپاره مې دا بحث راوړ چې په انګرېزي ژبه کې هم دې نومونې ته دوه ډوله اصطلاحات کارول شوي دي. څېنې لیکوالو دې ته Anthropological Linguistics اصطلاح کارولې ده چې د وګړپوهنیزې ژبپوهنې معادل یې موږ کاروو څېنو بیا ورته Linguistic Anthropology اصطلاح کارولې ده چې موږ یې ژبنۍ وګړپوهنه معادل ګڼو. البته دا دواړه اصطلاحات په خپلو کې څه نا څه ادل بدل ښکاري خو مطلب ترې یو دی، څکه چې ژبنۍ انتروپولوجي د انساني ژبو څېړنه د انتروپولوجي د علم پر اساس کوي او انتروپولوجیکل ژبپوهنه هم همدا کار کوي. نو په دې مقاله کې دا دواړه اصطلاحات په یوه مفهوم راوړل شوي دي.

دا چې موږ وګړپوهنیزه ژبپوهنه ووایو او که ژبنۍ وګړپوهنه، مطلب مو ترې هماغه وګړپوهنیزه ژبپوهنه ده؛ البته د دې لپاره مې دا بحث راوړ چې په انګرېزي ژبه کې هم دې نومونې ته دوه ډوله اصطلاحات کارول شوي دي. څېنو لیکوالو دې ته Anthropological Linguisticsاصطلاح کارولې ده چې د وګړپوهنیزې ژبپوهنې معادل یې موږ کاروو او څېنو بیا ورته Linguistic Anthropology اصطلاح کارولې ده چې موږ یې ژبنۍ وګړپوهنه معادل ګڼو. البته دا دواړه اصطلاحات په خپلو کې څه نا څه ادل بدل ښکاري خو مطلب یې یو دی څکه ژبنۍ انتروپولوجي د انساني ژبو څېړنه د انتروپولوجي د علم پر اساس کوي او انتروپولوجیکل ژبپوهنه هم دا کار کوي. نو په دې مقاله کې دا دواړه اصطلاحات په یوه مفهوم راوړل شوي دي.

انتروپولوجیکي ژبپوهان ژبه د ټولنیز عمل یوه بڼه ګڼي. په بل عبارت: دوی دا څېړي چې ژبه څنګه د خلکو لهخوا د فرهنګي باورونو، اړیکو او هویتونو د رامنځته کولو او ساتلو وسیله ګرځي. ژبه، هم د اظهار وسیله ده او هم یو بیانیز عمل دی چې د انسان له تجربو سره ژوره اړیکه لري، له هغو ضمیرونو څخه نیولې چې کاروو یې تر هغو سیاسي څرګندونو پورې چې اورو یې، دا ټولې برخې په انتروپولوجیکل ژبپوهنې کې د مطالعې وړ دي.

د وګړپوهنې په انلاین مجله کې یوه مقاله خپره شوې ده چې داسې په کې لیکل شوي دي: "ژبنۍ وګړپوهنه د انتروپولوجۍ له څلورو اساسي څانګو څخه یوه ده. ژبنې انتروپولوجیستان ممکن د فرهنګي انتروپولوجۍ زده‌کړې هم ولري او د همدغو پراخو موضوعاتو په اړه څېړنې کوي، لکه نژاد، جنسیت، سیاست، اقتصاد، اقلیم او چاپېریال، رسنۍ، روغتیا، قانون او شخړه. ژبنۍ انتروپولوجي د ژبپوهنې (linguistics) له ځانګړو څانګو سره هم نظریاتي، میتودولوژیک او موضوعي ګډوالی لري. برعکس څېنې ژبپوهان هم لکه ژبني انتروپولوجیستان د ژبې کارونې د چاپېریال یا سیاق له مخې څېړنه کوي، دا ګورې چې ژبه څنګه د یو ټولنیز ګروپ دننه توپیر لري یا د لنډو مودو په لړ کې بدلېږي. خو سره له دې ژبنۍ انتروپولوجي یوه ځانته بېله څانګه ده. یوه ځانګړې نښه یې دا ده چې ژبني انتروپولوجیستان د ژبې کارونه د ورځني ژوند په شرایطو کې د اتنوګرافیکو میتودونو په وسیله څېړي. سربېره پر دې دوی ژبه له هولیسټیک (ټولهییز) لیدلوري څېړي او دا داسې لیدلوری دی چې ژبه هم له ټولنیزو جوړښتونو، شبکو، او اړیکو اغېزمنېږي او هم پخپله په دې جوړښتونو کې بدلون راولي. دا معنا لري چې دوی ژبه د هغې ټولنیزې او تاریخي فضا یوه برخه ګڼي چې ژبه پکې رامنځته شوې ده." (ډاس، ۲۰۲۲: ۱مخ)

پورته د وګړپوهنې د څلور ګونو اساسي څانګو یادونه وشوه چې په اړه یې په لنډ ډول لیکو:

۱.کلتوري وګړپوهنه (Cultural Anthropology): د انسان د کلتور، دودونو، عقایدو، ټولنیزو چلندونو او د ژوند لارې چارې څېړي چې خلک ولې داسې باورونه او عادتونه لري او کلتور څنګه ټولنه سمبالوي.

۲.بیولوژیکي/جسماني وګړپوهنه ( Biological/ Physical Anthropology): د انسان د بدن، تکامل (Evolution)، جنیتیک او د انسان د نوعو د بدلون تاریخ څېړي. یعنې انسان څنګه له لرغونو وختونو څخه تر ننه پورې د بدلون پړاوونه تېر کړي.

۲مخ

# د سعود د یوه بیت شننه

**څېړندوی محمد طاهر شرر ساپي**

شعر یو خوند او ښکلا ده، هر شاعر د خپلې ځانګړې تجربې له مخې دغه خوند او ښکلا راته مجسمه کوي. د رحمان بابا په خبره دا متل دی چې له درده زګیروی خیژي. کله چې هم د شاعر په ذهن او زړه کې د ښکلا اور اورکي بل شي نو هڅه پیل کړي چې مخاطب ته یې په هم هغه شکل او خوند وړاندې کړي په کوم شکل او خوند چې د ده په وجود کې راښنه شوي. ډېر ځله له شاعر نه دغه خوند او ښکلا لفظونه خوري، ډېر ځله یې ترې موسیقي خوري او ډېر ځله یې ترې د معنی او لفظونو د نظم جوړښت خوري. همدا دا ده چې شاعر د شعر د لیکلو پر مهال د خپل شعر لومړی نقاد دی، کله یوه کلمه راواخلي د بلې پر ځای یې کېږدي، کله بله کلمه راواخلي. د کلماتو په انتخاب کې پوره کوشش کوي. د هر ځای لپاره ځانګړې کلمه انتخابوي خو چې کله هم د کلماتو په انتخاب کې تیروځي، د تصویر په جوړولو کې د رنګونو تناسب له پامه وغورځوي نو په هغه لطافت او حرارت چې د ده په زړه کې راټوکېدلی موږ ته نه شي وړاندې کولی او پاتې په کې راځي.

سعود د پښتو ژبې یو له هغو نامتو شاعرانو څخه شمېرل کېږي چې د ښکلا په جوړونه کې له ډېرې ځیرکیتا او احتیاط نه کار اخلي. ژور فکر ورسره په دې برخه کې پوره لاس اړوي او د شعر موسیقي یې کله ناکله دومره خوږه لګېږي لکه د پښتنو میندو الله هو چې پر خپلو بچو خوږه لګېږي. د سعود صیب یو بیت مې نن بیا مخې ته راغی. په دې بیت باندې ما پخوا د ده په څېپور کړي غزل کې خبرې کړې وې خو نن یې بیا اړ کړم چې یو څو کرښې وړباندې توري کړم.

> په شاګردانو تخته نه پاکوم
> ټکی چې وران شي ماته ته یادېږي

د دې بیت خام مواد، شاګردان، تخته، ټکي، د پاکولو فعل او محبوب دي. دا پنځه شیان د شاعر د کور خښتې دي، دا خښتې یې څنګه ایښې؟ ولې یې داسې ایښې؟ ایا د دې خوندور کورګي په جوړولو کې بریالی دی او که نه؟ د بیت په اورېدو سره ذهن ته د شاعر د شخصیت او دندې په اړه معلومات ارایه کېږي. شاعر راته په نامستقیمه توګه خپل ځان راپېژني چې استاذ دی. د شعر یوه ځانګړنه دا هم ده چې خبرې په کې په نزاکت او کنایه کې کېږي. اول برادشت له بیت نه همدا اخیستل کېږي چې د دې بیت لیکونکې یو استاذ دی. شاعر راته شاګردان یادوي، د زدکونکو او مکتب تر منځ اړیکه ژوره ده، څکه چې هر زده کونکی مکتب وایي. د شاعر په لاشعور کې دا خبره پرته ده چې د شاګرد او د وړانولو ترمنځ یوه ژوره اړیکه شته، د شاګردۍ دوره شوخه وي، نو د دې ځای لپاره د شاګرد کلمه مناسبه او کره ده. دوهم دا چې د ټکي وړانیدل او معشوق سره مشترک وصف لري چې دا د شاعر نفسیاتي حالت راته ښه په ډاګه کولی شي. شاعر له دې نه په ویره کې دی چې له خپلې معشوقې سره وران نه شي. ترې جلا نه شي او ضمنا دا هم په ډاګه کوي چې د دې او د معشوقې ترمنځ د ټکي او د ماشوم تشبیه ده. ماشومان، طبعا معصوم، سپېڅلي، خوش باوره، مینه ناک او عاطفوي وي او ټکی جمودي حالت لري یعنې د خپلې معشوقې پر وړاندې هیڅ نه شي کولی. له دې سربېره په بیت کې عاطفوي حالت ډېر خوږ انځور شوی دی. د شاعر نرم او رحیم زړه په کې درزیږي.

**پای**

★★★★★★★


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (Ph.D)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

*Compose & Layout Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature, Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com